# د توریستي ساحو معلومات

## پکتیا، خوست او پکتیکا ولایتونه


پوهنتون تپه - خوست


د پکتیا ښار


خوست محمدی جامع جومات

# Information about tourist areas

## Paktia, Khost and Paktika

Teri Kando Mosque - Paktia



High Hill - Paktia




Afghan Tour GD ریاست عمومی افغان تور

0202106837 / 0704931795

afghantour.co@gmail.com

ato.gov.af


Follow Us

ریاست عمومی افغان تور
ESTD 1958
Ministry of Information and Culture
AFGHAN TOUR ORGANIZATION

# Afghanistan Map



# Table of Contents

# لړلیک


1 پکتیا ولایت
Paktya Province

د پکتیا اداري تشکیلات
د پکتیا ولایت تاریخي ځایونه:
سیاحتي سیمې
پارکونه
مشهور هوټلونه
جوماتونه
هوا او اقلیم
د اریوب ځائي پارک
د ګردېز بالاحصار
الواړي

8 خوست ولایت
Khost Province

د خوست ولایت سیاحتي او توریستي سیمې
پارکونه
مشهور هوټلونه
خوست ولایت تاریخي آبدات
خواجه متون غونډۍ( تپه)
د باک ولسوالی چنارګي د اوبو بند
د خوست ولایت فارم تفریحي باغ

15 پکتیکا ولایت
Paktika Province

معلومات عمومی پکتیکا

# MAP

# نقشه

## Paktiya

## پکتیا



# پکتیا ولایت

پکتیا د افغانســـتان د سویلي ولایتونو څخه یو مهم ولایت دی چې د پلازمېنې کابل سره په ۱۲۲ کېلومترۍ کې پروت دی، مرکز یې گردېز او د افغانســـتان په جنوب ختیځه برخه کې موقعیت لري چې جنوب ختیځې خواته یې د خوست ولایت، ختیځ ته یې د ډیورنډ فرضي کرښــې ها غاړه قبایلي ســیمه پاړا چنار، جنوب لوېدیځ کې د پکتیکا ولایت سره گډه پوله لري، په لوېدیځ کې د غزني او په شمال کې له لوگر ولایت سره نښــــتی دی. په شمال ختیځ کې حتا د ننگرهار له ولایت سره هم یوه کوچنۍ پوله لري. د یادونې وړ ده چې پکتیا ولایت د جنوب ختیځ زون د مرکز په توگه هم ټاکل شوی دی.
د دې ولایت مســـاحت (۱۶۸۶۲) کیلومتره مربع اټکل شوی دی، نفوس یې د روغتیایي او مرستندیه مؤسیســـې د رسمي سرشمېرنو له مخې تر یو نیم میلیون اوړي.

# Paktiya Province

Paktia is one of the most important provinces of southern Afghanistan, which is located 122 kilometers from the capital city of Kabul. Its center is Gardez and it is located in the southeastern part of Afghanistan. Parra Chinar, a tribal area along the Durand Line, has a common border with Paktika province in the southwest, Ghazni in the west, and Logar province in the north. In the northeast, it even has a small border with Nangarhar province. It is worth noting that Paktia Province has been designated as the center of the South-East zone. The area of this province is estimated to be 16862 square kilometers, and its population is about one and a half million according to the official census of the Health and Welfare Institute.



**د پکتیا اداري تشکیلات:** پکتیا ولایت ۱۴ ولسوالي لري چې ۱۱ پښتانه قومونه پکې ژوند کوي او د اکثریت اوسېدونکو ژبه یې پښتو ده.

**د پکتیا ولایت تاریخي ځایونه:** د ګردېز بالاحصار، د احمد ابا چوتره او د عثمان خېلو د ځمکنیو سلطان کلا، د پټان منځکین بابا زیارت، د جانیخېلو ښکي پنګه، د ځاځیو ګل غونډۍ، د زرمت خواجه غار، د زرمت عبدالرحمن بېهشتي، د زرمت روحاني بابا، د پټان شېخ بابا زیارت، سلمان غر، د وزیر کاریز تاریخي غونډۍ او داسې نور دي.




**سیاحتي سیمې:** اریوب سپینه شګه، ابداکی، الواړي، مندرک، بابکري غر او داسې نور.

**پارکونه:** د سپینې شګې آریوب ځاځي پارک او د تېري باغ ښارګوټی او خواجه علی علیه رحمه زیارت باغ

**Administrative Organizations:** Paktia province has 14 districts where 11 Pashtun tribes live and the language of the majority of residents is Pashto. National Park and Tere Bagh and town.

**Historical places of Paktia Province:**

Gardez Balahisar, Ahmedaba Hujra and Osman Khel's Chamkinu Sultan Fort, Patan Madhkin Baba's Shrine, Janikhel's Shaki Pangha, Zazai Gul Hill, Zarmat Khwaja Cave, Zarmat Abdul Rahman Beheshti, Zarmat Rohani Baba, Patan Sheikh Baba Shrine, Salman Ghar and so on.

**Tourist areas:** Ariob white sand, Abdaki, Alwari, Mandrak babakri mountain etc.

**Parks:** White Sand Ariyub Zazai Park, Tere garden and Khwaja Ali (may Allah have mercy on him) pligrimage garden.

**جوماتونه** :د شهرنو مرکزي جومات، د گردېز عمرفاروق جومات، د بلند منزلو عیدگاه جومات، د ځاځیلو عالي خېلو جومات، د لواړي جامع جومات او داسې نور دي.



چوک مرکزی شهر گردیز

**Mosques:** The central mosque of Shahran, Gardez Umar Farooq Mosque, the high-rise Eidgah Mosque, the Zazailo Al-Khil Mosque, the Luwari grand Mosque and so on.



منطقه زعفران خیل ولایت پکتیا

**هوا او اقليم** :د پکتیا هوا او اقلیم دوه موســـمه دی چې یو وړی او بل منی دی، چې کروندګر یې په وړي کې له خپلو ځمکو غنم لاس ته راوړي او په مني کې جوار، شــولې، لوبیا، مۍ او داســې نور ترلاســه کوي او مشهورې میوې یې منې، جلغوزي، چهارمغز، انار، انګور، زردالو، ناک او داسې نور دي.




د تیرې جومات

Teri Mosque



Rohani Baba pligrimage

روحاني بابا زيارت

**Weather and climate:** The weather and climate of Paktia has two seasons, one is winter and the other is autumn, in which the farmers harvest wheat from their fields and in autumn they get corn, rice, beans, May, etc. The famous fruits are apples, pine nuts, pears, pomegranates, grapes, apricots, pears, etc.

## د ګرديز بالاحصار

پکتيا چې د افغانســتان يو زوړ او تاريخي ولايت دی او په خاص ډول د ګرديز د ښار بالاحصــار دی چې يو ځانګړی تاريخ لري. دا بالاحصــار د يوې مســتطيل شکلې خاورينې غونډۍ پر سر د مقدوني سکندر پاچا وخت کې جوړ شــوی دی، د يوې کلکې کلا درلودونکی دی او درې برجونه لري چې اوږدوالی يې تقريباً (۳۵۰) متره او لوړوالی يې له هوارې ځمکې څخه د (۴۰) مترو په شاوخوا کې اټکل شوی. چارچاپېره يې خندقونه (مورچې) تر سترګو کېږي. نوموړی بالاحصـــار له اسلام څخه وړاندې جوړ شوی دی، خو دقيقه نېټه يې نه ده معلومه، چې په کوم کال او کومه نېټه کې اباد شــوی دی، خو تاريخ پوهانو ويلې چې ډېره موده د بوديزم مرکز پاتې شــوی دی. د اســلامي امارت له راتګ سره چې په هيواد کې امن ډادمن شوی نو دا بالاحصار ته د سيلانيانو د داخلي او بهرني سيلانيانو ورتګ ډېر شوی دی.

## Gardez Balahisar

Paktia, which is an old and historical province of Afghanistan, and especially Gardez city's Balahisar, has a special history. This fort was built on a rectangular earthen hill during the time of the Macedonian king Alexander. Estimated around There are trenches around it as far as the eye can see. The named Balahisar was built before Islam, but the exact date is not known, in which year and on which date it was built, but historians said that it remained the center of Buddhism for a long time. With the arrival of the Islamic Emirate, peace has been established in the country, so the number of domestic and foreign tourists has increased.



# د آریوب ځاځي پارک

د پکتیا ولایت ځاځي آریوب ولســوالي سیاحتي پارک چې د ګردیز څخه (۸۰) کیلو متره ختیځ خواته د سپین غره لمنې سره جوخت په فرضي کرښــه موقیعت لري . دا ملي پارک چې د ســپینې شــګې په نوم یادېږي له خورا طبیعي ښــکلا څخه برخمن پارک دی، نرمه او معتدله هوا یې هر تلونکي ته د زړه ســکون او ارام ورکوي، دغه پارک د طبیعي ښتړو درلودلو او د سپین غر په لمن کې یخې اوبه یې د هر سیلاني نمجه تنده ماته وي.

یاد پارک له اقتصـادي پلوه یو له خورا مهمو پارکونو څخه دی چې په اخترونو او رخصـتیو ورځو کې د ډېرو عایدو لاسته راوړنکی پارک دی. د رخصــــــتیو او اخترونو په ورځو کې په زرهاوو کورني سیلانیان نوموړي سیمې ته د سیاحت او تفریح لپاره ورځي

# Zazai Aryob Park

The tourist park of Zazai Aryob district of Paktia province is located on a hypothetical line, 80 kilometers east of Gardez, along the border of the White Mountain. This national park, which is called White Sands, is a park with great natural beauty. The mild and moderate weather gives peace and tranquility to every visitor. This park has natural waterfalls and cold water at the foot of White Sand and it makes every tourist to enjoy this water.

This park is one of the most important parks from an economic point of view. During holidays and festivals, thousands of domestic tourists visit this area for tourism and entertainment












# الواړي

الواړي د پکتیا ولایت یوه د پاکې او نرمې هوا درلودنکي سیمه ده، یاده سیمه له څمکنیو بیا د جانیخېلو پر مسـیر پرته ده، چې د شهرنو له بازاره دولس کیلومتره خامه لاره ورغلې ده، د دې سـیمې ډېری اوسـیدونکي منګل، مقبل، غلجي او څمکني دي، که څه هم الواړی د پراخوالي له کبله کوچنۍ ده، خو نفوس زیات پکې اوسېږي، ځمکه یې دوه فصله ده او بزګران پکې د یوې مړۍ ډوډي پیدا کوي.

الواړي ته د اخترو په شپو ورځو کې د سیل لپاره ګڼ شمېر خلک ورځي، دا سیمه د یوې نرمې طبیعي هوا درلودونکې ده او غرونه او هواري یې پر طبیعي نښترو، لمنځو او جلغوزیو پوښل شوي دي، په درو کې یې سړې چینې  د ورتلونکو سیلانیانو نمجه تنده ماته وي.

# Alvarai

Alvarai is a clean and soft-air area of Paktia province, the mentioned area is located on the Janikhel route, which is twelve kilometers from the city bazaar, most of the inhabitants of this area are Mangal, Muqbel, Ghalji and Chamkani, although due to its size it is small, but the population is large, its land is two seasons and farmers find a meal in it. There are a lot of people who come to the area on the day of the festival, and the mountains are covered with natural clashes, fountains, and dresses. and it is cold weather quenches the thirst of every tourist.

# نقشه

# MAP

## Khost

## خوست



# خوست ولایت

خوست د افغانستان په جنوب ختیځ کې پروت ولایت دی، چې د مرکز کابل سره کابو د (۲۵۰) کیلومتره د پاخه سړک په واسطه نښلول شوی دی، چې شمال لوېدیځ ته پکتیا ولایت، سویل ته یې پکتیکا ولایت، ډیورنډ کرښې ها خوا د پښتنو قبایل او ختیځ ته یې شمالي وزیرستان او کرم ایجنسی او د ۱۸۵ کیلومترو په اندازه د ډیورنډ فرضي کرښې سره شریکه پوله لري. خوست ولایت د احصایې له مخې تقریباً دوه(۲) میلیونه نفوس لري. دا ولایت چارچاپېره غرونه لري چې پر ځنګلونو پوښل شوي دي، د تڼیو، ګربزو، منګلو، ځاځي میدان او ځدراڼو ځنګلونه یې د نمونې په ډول یادولی شو. یاد ځنګلونه د جلغوزیو، نښترو، لمنځې، خېرۍ، سرپ، ګورګورې او زیتون ونې لري.

پدې ولایت کې ۱۲ پښتانه قومونه ژوند کوي او ژبه یې پښتو ده.

# Khost province

Khost is a province located in the southeast of Afghanistan, which is connected to the center of Kabul by a paved road of about 250 km where at the northen side has Paktiya province, paktika province on the southren side, and to wards the durent line the Pashtun tribes and North Waziristan and Karam Agency to the east and a 185-kilometer shared border with the hypothetical Durand Line. According to statistics, Khost province has a population of approximately two (2) million. This province is surrounded by mountains that are covered with forests. The Tanri, gurbaz, mangal, zazi maidan and zadran forests can be mentioned as sample. These forests have pine trees, sycamore trees, and olive trees. There are 12 Pashtun tribes living in this province and their language is Pashto.



## د خوست ولایت سیاحتي او توریستي سیمې:

اد مامد(اد محمد) سیمه، ځاځي میدان ولسوالی، میلمه کوټ باغ، فارم باغ، انار باغ، خوجه متون غونډۍ، پوهنتون غونډۍ، قلندرولسوالی، د ځاځي میدان ولسوالۍ د مرکو سیاحتي غونډۍ او تالار، د حصار (ویسور) سیاحتي غونډۍ، د گربزو مغلگي سیمه، ژوره سیمه، ځاځي میدان ولسوالۍ سیتوان تاریخي او سیاحتي برج، ځاځي میدان ولسوالۍ گورگورۍ سیاحتي باغ او سیمه، باک ولسوالۍ چنارگي سیاحتي او تورووستي حوض او داسې نور دی چې د کال په اوږدو کې لسگونه زره سیلانیان د سیل او سیاحت لپاره ورځي.







**Khost Province Historical sites**: Ad Mamed (Ad Mohammad) area, Zazai Maidan District, Melmah Kot garden, Farm garden, Anar garden, Khoja Matun Hill, University Hill, Qalandar District, Zazai Maidan District Interview Tourist Hill and Hall, Hisar (Visor) Tourist Hill, Garbzo Mughalgi area, deep area, Zazai Maidan District Setwan Historical and Tourist Bridge, Zazai Maidan District Gurgori Tourist Park and Area, Bak District Chinargi Tourist Pond and so on. thousands of tourists visit this area for tourism throughout the year.






**پارکونه:** حکیم تڼیوال پارک، ببرک خان پارک، سولې پارک او د ازادي مېنې پارک.










**Parks:** Hakeem Tinwal Park, Babrak Khan Park, Peace Park and Azadi Maina Park.

**Famous hotels are:** Rahim Gardezi Hotel, Spinghar Hotel and Paktia of Time Hotel



Dome of Shah Ismail

## خوســــــت ولایت تاریخي آبدات:

کاروان‌سرای، تخته بېکــــــي، کلا(قلعه) مینار غونډۍ، غازی بېرک خان کلا، شمل حســــــن کوټ تاریخي گنبته، د تنیو ولســــوالۍ اړوند د ره گۍ تاریخــي ړنډي، کوکاراک بابا زیارت، د تخته بېکي غونډۍ ودانۍ، د مقتدا صـــــاحب روضـــــه، پیر جومات، باک تاریخي جومات، غازي بېرک خان جومات، د گربزو ولســـــوالۍ تاریخي او جهادي گوري، باک ولسوالۍ نیه ادا مشهور تاریخي زیارت او داسې نور.

**Khost Province Historical sites:** Karun Sarai, Uttha Beke, Qala (Fort) Minar Hill, Ghazi Babrak Khan Fort, Shamal Hasan Kot Historical Dome, Taniyo District Historical Dunes, Kukarak Baba Shrine, Uttha Beke Hill Building, Abu Harira Mosque , Muqtada Sahib Ruza, Peer Mosque, Bak Historical Mosque, Ghazi Babrak Khan Mosque, Garbzo District Historical and Jihadi Gori, Bak District Neh Ada Famous Historical Shrine and so on.






## خواجه متون غونډۍ( تپه)

د متون غونډۍ د خوست ښار په شمال لوېدیځه څنډه کې موقعیت لري، چې د مرکزي ښار حاکمه نقطه ده، د یادې تپې پر سر باندې ډبرینه نظامي کلا ده چې د کلا په څلورو کونجونو باندې د دښمن د دفاع په خاطر یو-یو دفاعي برج لري، پدې غونډۍ باندې جوړه شوې تاریخي کلا د محمدظاهرشاه د واکمنۍ پرمهال په )۱۳۳۷( هـ ل کال کې د المان هیواد په مرسته جوړه شوې ده، دا د خوست ښار تر ټولو مشهوره تپه بلل کېږي پدې تپه باندې د متون بابا په نوم زیارت هم شته چې دا زیارت د (۷)او(۸) مترو په شاوخوا کې اوږدوالی لري، نوموړې زیارت هم د غونډۍ په لوېدیځه برخه کې د غونډې پر سر پروت دی، دلته پخوا ډېرى خلک په نوي کال، اخترونو او تاریخي ورځو کې د زیارت لپاره ورتلل، دا غونډې د متون بابا )خواجه محمدخان( تپې په نوم یادیږي.

اوس مهال دا تپه یوه ډېره ښایسته او په ونو او بوټو شنه پوښل شوې سیاحتي منظره لري چې په تفریحي او نورو ورځو کې ډېر سیلانیان د سیاحت لپاره ورځي او هلته سیل او میلې کوي.

## Khwaja Matun Hill




Maton Hill is located in the northwestern edge of Khost city. It is the dominant point of the central city, there is a stone military fort on the top of the hill, which has a defensive tower on the four corners of the fort to defend the enemy. 1337) It was built in this year with the help of Germany, it is called the most famous hill of Khost city. This shrine is also located on the top of the summit in the western part of the hill. In the past, many people used to go here for pilgrimage during the New Year, festivals and historical days. It is mentioned.

Currently, this hill has a very beautiful tourist landscape covered with trees and plants, which many tourists visit for tourism and feast there on recreational and other days.

# د باک ولسوالۍ چنارگي د اوبو بند

د چنارگي د اوبو سیاحتي بند د خوست ولایت باک ولســـــــــوالي شمال او ځاځي میدان ولسوالۍ ته پرغزېدلې سړک ښي طرف ته په(۵۰۰) متره فاصله کې د جگو او دنگو غرونو په منځ کې موقیعت لري چې د افغانســـتان د مختلفو ولایتونو څخه په ځانگړو ورځو کې په سلگونه سیلانیان د سیل کولو لپاره ورځي او د خوست ولایت مرکز په گډون د ولســـواليو څخه هره ورځ په لســـــــگونو ځوانان د تفریح او مېلو لپاره ورځي، دا بند(ډیم) د پاکو اوبو ترڅنگ ښایسته طبیعي او زرغونو منظرو په لرلو سره د سیلانیانو زړونه را جلب کړي دي.







# Bak District Chinargi Dam

Chinargi water tourist dam is located on the right side of the road extending to the north and Zazai Maidan district of Bak district of Khost province, at a distance of (500) meters between Jago and Dungo mountains. Hundreds of tourists come to seal and dozens of young people from the districts including the center of Khost province come every day for fun and festivals. It has attracted hearts.

## د خوست ولایت فارم تفریحي باغ

فارم باغ د خوست ولایت په سهیل ختیزه برخه کې پروت دی، چې له خوست ښار سره لس (۱۰) کیلو متره واټن لري، دا باغ په خوست ولایت کې یوه مشهوره سیاحتي سیمه بلل کېږي، چې په (۳۸۰) جریبه ځمکه باندې پروت دی. فارم باغ د ظاهرشاه د سلطنت پر مهال جوړ شوی، چې په دوو اړخو کې ښایسته شنې او په طبیعي ځنګلونو پوښل شوې سیاحتي غونډۍ لري، نو لدې امله یې د خپل طبیعي ښایست او زرغونو منظرو په لرلو سره د سیلانیانو توجه راجلب کړې ده. دې باغ ته دا نه یوازې چې د خوست ولایت د بېلا بېلو سیمو خلک د سیل لپاره ورځي بلکي د افغانستان د مختلفو ولایتونو څخه هم په ځانګړو ورځو کې سلګونه سیلانیان د سیل کولو لپاره ورځي او هلته تفریح او میلې جوړوي.

# Farm amusement park in Khost Province

Farm garden is a famous tourist area in Khost province, which is located on (380) acres of land. Farm garden was built during the reign of Zahir Shah, which has beautiful green and natural forested tourist hills on two sides, so it has attracted the attention of tourists with its natural beauty and green scenery. Not only people from different areas of Khost province come to this garden for sealing, but also hundreds of tourists from different provinces of Afghanistan come to enjoy on special days and to have picnic there.






# نقشه

# MAP

## Paktika

## پکتیکا





# معلومات عمومی پکتیکا

پکتیکا یکی از ولایات مشرقی افغانستان است که در ۱۹۴۸۲ کیلو متر مربع مساحت و به اساس احصائیه ۱۳۹۹ هجری شمسی ۷۷۵۴۹۸ نفر جمعیت دارد. این ولایت باولایات غزنی، زابل، پکتیا و کشور پاکستان هم سرحد بوده و هرودوت مورخ یونانی از آن بنام پکتیس یا پکتوس و بیطلیموس هم از آن بنام پکتین یاد کرده که از آثار باستانی بیشمار درین ولایت یاد آوری کرده اند که درین اواخر یکی از آن در قریه عمر خیل ولسوالی خوشامند کشف گردیده اند که قدامت دو هزار ساله دارد.

این دارای رود های فراوان بوده و با پوشش گیاهی متنوع و جنگل زار، آب های ایستاده، حیات وحش فراوان بوده و بیشتر مردم آن پشتون است که در حدود ۹۶٪ آن را تشکیل داده و ۱,۸٪ آن ازبیک و متباقی آن هزاره و بلوچ بوده که اکثریت آن سنی مذهب و اقلیت شیعه مذهب آن نیز به زبان پشتو تکلم می نماید.

پکتیکا دارای ۱۹ ولسوالی بوده که عبارت است از: ولسوالی :اُرگون، اومَنه، بَرمَل، تَروُو، جانیخیل، دیله، خوشامند، زرغونشهر، زیروک، سرحوضه، سَروبی، شرَن، گومَل، گیان، مَتاخان، نِکه، وازهخواه، وَرمَمی، یحییخیل، یوسفخیل اند که مرکز آن شرَن است.

تاریخی ابدات:

زیارت امنو

ملا شیرزاد

زیارت ملا عزیز خان

ساحه تاریخی برولی

ساحه تاریخی برولی



# General Information

# Paktika

Paktika is one of the eastern provinces of Afghanistan with an area of 19482 $km^2$ and has a population of 775498 people according to the statistics of 1399 AD. This province is bordered with Ghazni, Zabul, Paktia provinces and Pakistan Country, and herodotus greek historian, Pectis or Pecttus and Bethelmus, also called it Pectin, which has mentioned numerous ancient artifacts in this province, one of which has recently been discovered in Omar Khel village of Khoshamand district, which has a 2,000-year-old age.

It has many rivers covered by various fields, jungle, standing water, wildlife, and most of its people are Pashtuns, which constitute about 96% of it and 1.8% of it is Uzbek and the remains of Hazara and Baluch, the majority of which are Sunni and Shia minority speak Pashto.

Paktika consists of 19 districts which are: Argon, Omnia, Bermel, Truvo, Janikhel, Deyla, Khoshmand, Zarghonshahr, Zirok, Sarhoda, Soroubi, Sharan, Gomal, Gyan, Matkhan, Neckah, Wazekhah, Vermmi, Yahya Khel, Youssef Khel, which is the capital of Sharan.

Historical Eternals:

Ziyarat Amenu

Molla Shirzad

Ziyarat Mullah Aziz Khan

Historical Region of Buruli




Paktika City



Khost Sabraio District

خوست صبریو ولسوالی

Paktia Zazai Aryob Park

پکتیا ځاځی آریوب پارک



# ریاست عمومی شرکت دولتی افغان تور

دفتر مرکزی: کابل، افغانستان چهارراهی عبدالحق

نمایندہ گی ها:

- هرات
- مزارشریف
- بامیان
- ننگرهار
- کندهار
- نیمروز
- غزنی
- بدخشان
- نورستان
- پکتیا
- خوست


Afghan Tour GD ریاست عمومی افغان تور

0202106837 / 0704931795

afghantour.co@gmail.com

ato.gov.af



خوست شیخ زاید پوهنتون

Shiekh Zaid University Khost



مسجد قیصر خوست

Qaisar Mosque Khost



مسجد تیری کندو پکتیا

Teri Kando Mosque Paktya